AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد عارف رسولي

۲۰۱۹/۰۲/۱۹

# د لاجوردو ترانزيتي دهليز، اقتصادي،

## جيوستراتېژيک او جيوپوليتيک اهميت

### دريمه برخه

**د اقتصادي دهلیزونو د رامنځته کېدو نور لاملونه:**

هغه ملکونه چې زيات ګاز، تيل او معدن لري او دا زيرمې انرژۍ، سړکونو، ريل لارو، پايپ لاينونو، ساختماني توکو، کارګرانو او نورو خېزونو ته اړتيا لري او بايد تر سترو ملي او نړيوالو مارکيټونو پورې ورسول شي. لکه پورته مو وويل د دې اسانتياوو په اوږدو او شاوخواکي زياتو پانګونو، اقتصادي او تجارتي راکړو ورکړو ته اړتيا وي او د ترانزيتي او اقتصادي دهليزونو له رامنځته کېدو سره مرسته کوي.
د مثال په توګه کله چې د افغانستان د حاجي ګګ د اوسپنې کان او نور ايستل کېږي، دې ته د انرژۍ، سړکونو، ريل لارو، او نورو اړتيا ده تر څو د مثال په توګه د چابهار بندر له لارې تر اړين مارکيټه ورسول شي. همدارنګه، د عينکو د مسو کان ورته مسير او اسانتياوو ته اړتيا لري تر څو تر نړيوال مارکيټه ورسول شي او ښکاره ده چې په دې مسيرونو کې به زياته پانګونه کېږي، دا پانګونه به زيات واړه او منځني تشبثات رامنځته او زيات کار او ثروت به خلق کوي، په اقتصاد به مثبته ستره اغيزه کوي او دې ته د جانبي مثبت تاثير (Spill over impact) وايي.
نن سبا زيات هېوادونه چې اقتصاد يې د تيلو، ګاذو، معدنونو او نورو ورته سکتورونو په محور ولاړ وي غواړي خپله اقتصادي تکيه د معدن، تيلو او ګاذو په سکتور کمه کړي، ځکه د اقليمي بدلونونو له کبله نړيوالي هڅې رواني دي چې د سون په فوسيلي توکو، چې ګلخانه اي ګاذونه رامنځته کوي، تکيه کمه کړي او د پاکي انرژۍ لکه سولر، اوبو، د ځمکې د داخلي حرارت، باد او نورو زيرمو ته د ملکونو د لاسرسي زيات کړي، بله دا چې د انرژۍ دا منابع تلپاتې نه دي او پای ته رسېږي، همدارنګه د نورو هېوادونو د سياسي او اقتصادي سياليو او جيوپوليتيکي مسئلو له کبله خپل ګاذ، تيل او غاذ په مناسبه بيه تر مارکيټه نشي رسولاى ځکه دا و اړوندو مارکيټونو ته پايپ لاين او ريل لارې غواړوي، نو د پورته او نورو لاملونو له کبله دا ملکونه چې شتمن هم دي هڅه کوي خپل اقتصاد ته تنوع ورکړي او په يوه سکتور خپله تکيه کمه کړي. ښه مثالونه يې امارات، سعودي او ترکمنستان دي.
په داسي شرايطو کې ورته ملکونه چې له خپلو زيرمو يې زياته پانګه تر لاسه کړې وي نو هڅه کوي چې خپلو اقتصاد ته تنوع ورکړي، په نورو سکتورونو لکه کرنه او صنعت زياته پانګونه وکړي، خپل توليدات زيات کړي، په ترانسپورتي اسانتياوو لکه سړکونو، ريل لارو او نورو کې پانګونه زياتوي تر څو له زياتو هېوادونو، سترو اقتصادي او تجارتي بازارونو، توليدي مرکزونو او سيمو سره وصل شي، خپل صادرات او واردات اسانه او د خپل ملک لپاره ارزانه کړي او هم د ترانزيت او حق العبور له لارې زياتي پيسي کال په کال تر لاسه کړي. داسي ملکونه هڅه کوي چې د پانګوني او توليد ازاد زونونه رامنځته او د نړيوالو پانګوالو پانګه راجلب کړي ځکه په ورته سهولتونو کې پانګونه زيات ګټه لري.

**اقتصادي دهليزونه، سيمه ايزي او نړيوالي سيالی:**

د اقتصادي دهليزونو د پورته يادو اقتصادي او ستراتيژيکو ګټو له کبله د سيمي او نړۍ په کچه د لوبو بدلوونکی (Game Changer) هم بلل کېږي. په دې معنی چې هېوادونو ته ستر ستراتيژيک اهميت لري او د ملکونو برخليک ټاکي. زيات هېوادونه او نړيوال انډيوالان يې د خپلو هېوادونو او ملګرو د ګټو په خونډي کولو کې د شطرنج لوبې ته ورته معاملو کې ښکيل وي خو عام خلک او په تېره په خوارو ملکونو کې خلک ورنه خبر نه وي. په دې شطرنج لوبو کې د يوه ملک ګټې له يو شمېر ګاونډيانو سره کله همغږې او کله په ټکر کې وي. د مثال په توګه د ټاپي په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پروژه کې د افغانستان او ایران ګټې له یو بل سره په ټکر کې وې، ځکه ایران غوښتل چې د ټاپي مخه ونیسي او خپل غاز و پاکستان او هند ته صادر کړي. که ملکونه او دولتونه یې پوره یو والی، توان، تحلیل، امکانات او مناسبه دیپلوماسي ولري، تر ډېره له خپلو ګټو دفاع کولای شي.
د همدې او نورو لاملونو له کبله اقتصادي دهلیزونه له خپلې خاورې سره وصل او یا تیرول کوم اسانه کار نه دی، ثبات، ښې رهبرۍ، ښې دیپلوماسۍ او نړیوالو ستراتیژیکو انډیوالانو ته اړتیا لري. نو که کوم ملک زیاتې طبیعی زیرمې هم ولري خو که ښه زیربنایي بنسټونه ونه لري او له نړیوالو بازارونو سره وصل نه وي له خپلو زیرمو سمه ګټه نشي اخیستلای او ښه مثال یې افغانستان دی.
د مهمو سیمو ایزو پروژو لکه د ټاپي د ګاذو نل لیکه چې په مسیر یې د چنو وهلو لوبه موږ ته مالومه ده، ایران نه غوښتل چې دا پروژه د افغانستان له لارې تېره شي، هغوی زیاتې هڅې وکړې چې پاکستان او هند ته دوی خپل ګاز صادر کړي او یا د دوي له لارې د ترکمنستان او ازربایجان ګاز صادر شي. نو د دې لپاره او هم دا چې افغانان ونه توانېږي خپلې اوبه مهار کړي ایرانیانو زموږ په هېواد کې خپلو لاسوهنو ته دوام ورکړ او اوس هم لاس نه اخلي.
خو څرنګه چې غربیانو او په سر کې یې امریکایانو نه غوښتل چې ایران دې دا ستراتیژیک هدف تر لاسه کړي، همدارنګه ایران له نورو ګاونډیانو سره لکه ترکمنستان، ازربایجان، جورجیا او ترکیې سره هم ښې اړیکې نه دی پاللي نو ټاپي او لاجورد لاره د افغانستان له لارې ممکنه شول.
**هغه سیاستوال چې په ستراتېژیکو لوبو ښه پوهېږي، د خپل ملک او د ګاوندیانو روا ګډې ګټې تشخیص او درک کوي او بیا د همدې ګټو د خوندیتوب لپاره له هغو ملکونو سره ګډې ستراتېژیکې هڅې پیل او بریاته رسوی. د افغانستان ستراتېژیک نوښت د لاجوردو د لارې او اقتصادي دهلیز په هکله یې یو ښه مثال دی چې خپلې ګټې مو د نورو څلورو هېوادونو لکه ترکمنستان، ازربایجان، جورجیا او ترکیې سره د یوې فعالې دیپلوماسۍ په مرسته وتړلې.**
په پورته ستراتېژیکو سیالیو کې د ملکونو حریفان هڅې کوي چې د دوي مخه ډب کړي، که کوم حریف په مستقیمه توګه کومه مهمه ستراتېژیکه پروژه نشي ورنه وړلای، نو په هېواد کې ستونزې ورته راپورته کوي، نیابتي جنګونه یې په ملک کې راپیدا کوي او نه پرېږدي چې د اقتصادي دهلیزونو او نورو مهمو ستراتېژیکو پروژو په جذبولو، وده او پراختیا کې بریالي شي ځکه دوی یې ځانته غواړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ